ځنګه کولای چې د اقلیمي بدلون سره توافق وکړو؟

دا چې چاپېریال او اقلیم د لوی خدای ج له لوري یو لوی نعمت دی چې خپلو بنده ګانو ته یې پېرزو کړی دی، نو موږ ټولو ته دا لازمه ده چې دا لوی نعمت په ښه ډول پاک او سوترهوساتو او د ککړېدو څخه یې مخنیوی وکړو، چې د مناسب اقلیم ذکر هم په قراني آیتونو او هم په نبوي حدیثونو کې راغلی دی چې د الله ج له لوري مناسب اقلیم خپلو بنده ګانو ته ورکړل شوی دی، د یو پاک اقلیم په لرلو سره موږ کولای شو چې هم خپل ټولنې د ناروغیو څخه وساتو او هم د یو ښه ژوند تېرولو لپاره یو ښه اقلیم ولرو.

که خپل شاوخوا ته په ښه ډول توجه ونکړو نو زموږ آب او هوا د ککړېدو خواته میلان پیدا کوي چې ککړه هوا هم زموږ صحت عامه او هم د ژوند د نورو برخو لپاره مضر ثابتیدای شي.

په لاندې لیکنه د اقلیمي بدلون په توافق بحث شوی او د اقلیمي بدلون علتونه او حل لارې په ګوته شویدي.

لخوا Global warming اقلیمي بدلون د یو لړ هغو تغیراتو د مجموعې څخه عبارت دی چې په منځیني موسم کې د نړیوال حرارت یا رامنځته کېږي یعنې دغه نړیوال حرارت ددې سبب کېږي چې اقلیمي تغیرات رامنځته شي، چې بیا اقلیمي بدلون نه یوازې دا چې په اوسط سطحي حرارت باندې تاثیر لري بلکې هغه په نورو فزیکي تغیراتو په پېښیدو کې هم ښه رول لوبوي لکه د مثال په ډول په فشار او حرارت کې تغیرات رامنځته کول، د سیلابونو په څپو کې تغیرات راوستل، او بل دا چې د وچکالیو او سیلابونو په راپیدا کیدو کې هم لاس لري.

دا چې اقلیمي بدلون یوه مضره پدیده ده او عموماً د ژوند په ټولو اړخونو باندې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول تاثیر لري، هغه اړخونه چې اقلیمي بدلون پرې زیات تاثیر لري او د دوی د رامنځته کېدو سبب ګرځي ځینې یې عبارت دي له: د اوبو سرچینې، وچکالي، سیلبونو رامنځته کیدل، صحت عامه متضرره کول، د مختلفو ژویو ژوند ته ګواښ پیښول، ځنګلونه او د حیواناتو ځړ ځایونو د ستونزو او آفتونو سره مخ کول او داسې نور دي، نو موږ ویلی شو چې تقریباً د ژوند هېڅ برخه له دغې مضرې پدیدې ځینې خوندي نده.

ددې لپاره چې د اقلیمي بدلون د خطرونو د ګواښونو څخه مو یوه اندازه ځان او ټولنه ژغورلي وي نو بایده ده چې د اقلیمي بدلون سره د توافق په مفهوم مو ځانونه پوهولي وي او د توافق اهمیت مو درک کړی وي، د اقلیمي بدلون سره د توافق لپاره باید د یوه داسې پالیسي او سیستم څخه کار واخلو چې هم زموږ د ژوند او د نورو ژویو ژوند لپاره کوم د خطر زنګ پېښ نکړي.

نو لاندې مهمې ستراتيژۍ او کړنلارې چې د توافق لپاره اړينې دي بايد په پام کې ولرو.

1)- لمړۍ مهمه به دا وي چې د توافق لپاره هغه موثرې کړنلارې په ګوته کړو چې د وروستيو ساينسي دقيقو څېړنو او راپورنو په اساس متکي وي.

2)- د توافق لپاره داسې اساسي فکتورنه غوره کړو چې په ټولو سکتورنو ګډ يا مشترک اوسي پدې مانا چې دا فکتورنه بايد پر پاملرنه، پلان جوړونه او توافق د پروسې په تطبيق باندې استوار وي.

3)- د توافق په اړه د خلکو د عامه پوهاوي او آګاهي سطحې کچه بايد لوړه کړو.

نو تر ټولو لومړۍ موږ ته مهمه او اړينه ده چې د اقليمي بدلون خطرونه درک کړو او هغې څخه د خوندي ساتلو لپاره داسې انفرادي او عامه پروسې پر مخ يوسو چې په راتلونکي کې د اقليمي بدلون سره پرې توافق ته رسيدلی شو.

لنډ مهاله او اوږد مهاله پلانونه بايد پر مخ واچوو او د قيقو وروستيو ساينسي څېړنو په اساس د اقليمي بدلون لومړني مالومات درک کړو.

د اقليمي بدلون سره د توافق لپاره لاندې پنځه ساده مراحلې بايد په ياد ولرو.

1)- د توافق په مورد شته مالومات او لاسته راوړنې او د توافق اهميتونه د خلکو سره شريک شي او منفي اعيزې يې هم تحليل او کتل شي.

* مهمه ده چې د توافق په اړه کره مالومات د هغې د اهميت او د توافق پورې مربوطونظريو په اړه شريک شي.

* د توافق او د توافق د بهرنيو پالسيو د مربوطه اړخونو او اندازو په اړه مالومات راجمع شي او هغه ساحې په ګوته شي چېرته چې د توافق نيمګړي فاصلې موجودې وي.

2)- هغه خطرونه تشخيص او درک شي چې د اقليمي بدلون د اعيزو په پښيدو سره رامنځته کيږي.

* د توافق د مالوماتو په اړوند مربوطه پايلې بايد تحليل او جمع بندي شي او خلکو ته د لوستلو لپاره په لاس کې ورکړل شي.

* د اقليمي بدلون هغه ساحې او سيمې چې لوړ خطرونه ورته متوجه وي بايد وپېژندل شي.

3)- د توافق لپاره د پروګرامونو د پلانولو لپاره خلک د خبرو له لارې يوې پايلې ته ورسيږي.

* د توافق لپاره اړتيا مشخصه شي، اهميت يې په نظر کې ونيول شي او پاليسيو کې د توافق د پلانونو او تطبيقاتو ته لومړيتوب ورکړل شي.

4)- د مهمو او آسانه لومړیتوبونو څخه پیل وشي.

* ابتدآ هغه اړین عکس العملونه باید ترسره شي چې د لنډ مهاله اعیزو مخنیوی کوي.

* راتلونکي کې د توافق هغه کچې چېرته چې د ټولنیز اقتصاد ګټې د هغې نه پورته وي په نظر کې ونیول شي.

5)- د خطرونو تشخیص او د توافق حلیل او اندازې باید په وروستیو ساینسي څېړنو استوارې وي.

هغه اساسات چې د توافق د عملي کولو او تطبیق لپاره ورته اړتیا ده په لاندې ډول یې څېړو.

1)- د سیمه ایزو او نړیوالو حکومتونوتر منځ خپل، خپل مسوولیتونه درک او پېژندل شي.

2)- د پروسې په مخکې تګ کې ټول یو له بل سره همکاري او ښه رول ولوبوي.

3)- هر وخت د ښاریانو سره د عامه پوهاوي لوړولو لپاره کره او دقیق مالومات شریک شي.

4)- بشري سرچینې په کار واچوال شي او ټرنینګ او روزنه ورکړل شي.

5)- د ریسرچ او تحقیق او تکنالوجي یون ته پرمختګ ورکړل شي.

د اقلیمي بدلون اعیزې د هغې علتونه او حل لارې په لاندې جدول کې په ښه ډول سره تشریح شویدي

| اعیزې | فکتورنه | حل لارې |
|---|---|---|
| د تودخې امواج | د خاورې خرابیدنه | خاورې د خرابیدو ځحه ساتنه |

| | | |
|---|---|---|
| | د ودانیو ناکافي جوړیدنه<br>د شني ښاري ساحې کمښت<br>د تودوخې زیاتوالی،نظر تولید،<br>ترانسپورټ، تودوخې او د ګڼ نفوس له<br>امله | د شنو ساحو زیاتول<br>اګاهي او د عامه پوهاوي سطحه<br>لوړول |
| د اوبو کمښت او وچکالي | د حررات درجې لوړیدل او وچ موسم<br>خاورې د حرارت درجې لوړیدل په پایله<br>کې د خاورې بهیدل<br>د اوبو کمښت او د اوبو د سرچینو<br>کمیدل<br>سطحي او ژورې اوبو کمیدل<br>د اوبو د نشتون له وجې پیچلی صنعت،<br>ترویزم، زراعت او په سیمه کې د شنو<br>ساحو کمښت | شین اوآبی جوړښت رامنځته کول لکه د<br>شنو ساحو راپیدا کول<br>د سطحي او عمقي اوبو زیاتوالی یعنې<br>د اوبو د سرچینو زیاتوالی<br>د سواداو عامه پوهاوي سطحه لوړول |
| ښاري سیلابونه | د شنو ساحو کمښت<br>د سمندر د سطح لوړوالی<br>د واورې ویلي کیدلو او باران له امله د<br>سیلابونو را منځته کیدل | د شنو ساحو رامنځته کولد سیلابونو د<br>دفاع په هدف د ساحې جوړول<br>موثرد اوبو ردوني سیستم<br>اګاهي او عامه پوهاوي سطح لوړول |
| د ځنګلونو اور اخیستنه | په ښاري او ځنګلي ساحو کې د<br>خطرناکو ساحو ټاکل<br>په ښاري او ځنګلي ساحو ته نږدې د<br>نفوس ګڼوالی<br>وچکالي<br>د حرارت درجې زیاتړالی<br>د باد د سرعت زیاتړالی | موثرد ځنګلی اور مدیریت سستم<br>ښه روزنه او ټرننیګ<br>سواد او د آګاهی د سطح لوړوالی |

د اقلیم د بدلون سره توافق،څکه مهم او اړین دی چې د توافق،له طریقه موږ کولای شو چې د خپل ژوند چارې په ښه شان سره سرته ورسوو که د محیط او اقلیمي بدلون سره توافق ونکړو نو موږ په اسانی، سره نشو کولای چې د خپل ژوند

فعالیتونه په ښه شان سره پر مخ یوسو، دغه لیکنه چې د اقلیمي بدلون د توافق.په اړه لیکل شویده د مختلفو ماخذونو څخه ترتیب شویده چې ځینې ماخذونه یې په لاندې ډول تشریح شویدي .


1) Life And Climate change adaptation ( EUROPEAN COMMISSION ENVIRONMENT DIRECTORATE GENERAL)
2) APPROACHES TO CLIMATE CHANGE ADAPTATION (THE COMMITTEE TO CLIMATE CHANGE ADAPTION)
3) ADAPTING REPORT BRIEF FINAL ( AMERICA CLIMATE CHOICES)
4) CHALLENGE PAPER CLIMATE CHANGE ADAPTATION